# د مقالی عنوان: په افغانستان کې چاپیریالي ستونزي
# لیکوال: روح الله هدف

افغانستان یوه له هغه هیوادونو څخه دی چې چاپیریالي ستونزو سره مخ دی او تر ډیره یې خلک د چاپیریال د قوانینو او اصولو څخه ناخبره دي. په افغانستان کې د چاپیریالي ستونزو د حل لپاره ددغو ستونزو په اړه هر اړخیز معلومات ضروري دی.

**د چاپیریالی ستونزو او د چاپیریال ساتنې په اړه د عامه پوهاوي کموالی**

دا چې خلک مستقیما د چاپیریال سره په اړیکه کې دي او دغه اړیکې په چاپیریال او نورو ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو باندی مثبت او منفی اثر لري. د هر ډول چاپیریالي ستونزو د کموالی او له لمنځه وړلو لپاره د خلکو رول ډیر زیات مهم دی. دا ډیره ضروری ده چې عام خلک پدې پوهه کړل شي چې ستاسو ډیر کوچني عمل هم د چاپیریال ساتني لپاره ډیر زیات مهم دی. او که چیري چاپیریال زیانمن کیږي نو عام خلک ډیر متاثره کیږي. هره ډول تګلاره چې د چاپیریال ساتنې په ساحه کې جوړیږي باید د عامو خلکو څخه شروع وکړي ځکه تر هغه چې د خلکو په اساسی خویونو کې بدلون نه وي راغلی او چاپیریال دوستانه عادتونه اختیار نه کړی په چاپیریال کې او د ژوند د بڼو په ساتنه کې د پام وړ مثبت بدلون راغوستل سخت دی.

باید په مکتبونو او پوهنتونو کې د چاپیریال ساتنې د اخلاقي مسوولیت په اړه معلومات او ورکشاپونه ورکړل شی او همدارنګه د شاګردانو او محصلانو تر منځ د چاپیریال د ستونزو د مثبت او منفي اړخونو په تړاو مناظرې ترسره شي تر څو هغه پوښتني چې خلکو سره شتون لری حل شي. باید د تلویزونونو تر څنګ په رادیوګانو کې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړل شي. خاصو ټولنو ته مثلا د بزګرانو ټولنو ته عامه پوهای ډیر زیات مهم دی ځکه زیاتره زراعتی فعالیتونه د چاپیریال په ککړتیا کې رول لري.

د عامه پوهاوی ډیر مواثره لار داسې تګلاره ده چې خلکو ته په عمل کې ثابته کړی مثلا د چاپیریال ساتنې کمپاینونو ترسره شي، د چاپیریال د مختلفو ورځو پر مهال غونډې ترسره کول، خلکو ته دا روحیه ورکول ترڅو په خپلوخوشحالیو کې مثلا د واده په ورځ، د خپلې د زوکړې په ورځ یا د کال د اولي ورځ په مناسبت نیالګې وکري. په خلکو کې باید د چاپیریال ساتنې ملی روحیه پیاوړې شي او په هیواد کې د شته طبیعی منابعو پر اهمیت پوهه شي مثلا ځنګه ځنګلونه مونږ او نور ژوندي موجودات او زمونږ شتمنی د سیلابونو، د هوا، خاوری، اوبو، پلاستیکي ککړتیا، د ځمکي د ښویدني، اقلیمی بدولون او نورو طبیعی افتونو څخه ژغوري او هغه مواد مونږ ته تیاروی چې ورځني ژوند ورپوري تړلي دی.

**د هوا ککړتیا**

دا چې د افغانستان ښارونه ډیر واړه دي مګر خلک او موټری پکې زیاتي دی او د چاپیریالی قوانینو خلاف فابریکې، روغتونونه او هوایی میدانونه هم په ښار کې شتون لري چې د خلکو ژوند یې له خطر سره مخ کړي او د هوا ککړتیا یې په نړي کې مشهوره ده چې د کابل ښار یې ښکاره مثال دی. هغه خلک چې په ښارونه کې اوسیږي دوی یو ډول له دغه چاپیریال سره توافق کړی او د ددغي ستونزي د سمدستي اثراتو په اړه بی باکه دی مګر په اوږده موده کې د هوا ککړتیا د خلکو او د ژوند د نورو بڼو د مرګ سبب کیږي چې همدا وجه ده چې هوا ککړتیا د خاموشه قاتل په نامه مشهوره ده.

باید د ښار څخه هوایي میدانونه، فابریکې، او روغتونونه لرې وي. د بې کیفیته تیلو د استعمال څخه ډډه وشي او په ښارونو کې نیالګې، ونې او شنې سیمې زیاتې شي. خلک باید نوی کیدونکو انرژیو ته جذب شي مثلا بادی یا سولری انرژی یا هایدروپاور. دولت باید د هغه موټرو قیمتونو لوړ او مالیه پرې زیاته کړي چې د کاربن د اخراجاتو یا د نورو ګل خانه یې

ګازونو اندازه یې زیاته وی او هغه فابریکه ته اساني رامنځ ته کړي چې موټرونه یې د چاپیریال ساتنې د قوانینو سره مطابق جوړ شوي دی.

دا چې د هوا په ککړتیا کې معلق مواد یوه مهمه برخه ده نو باید د جامدو او مایعو زبالو سالم مدیریت وشي او هم خلک یې په هر ځای کې ونه غورځوي چې د وخت په تیریدو سره د بادونو او تبخیر په مرسته دغه مواد اتمسفیر ته داخلیږي او هوا ککړوي. باید ددې موادو د ختمولو لپاره د ښار څخه لرې منظم د ښخولو ځای یا Dump sites جوړ شي. هغه مواد چې د بیا استعمال او جوړیدو وړ دی باید د ختمولو پرځای بیا جوړ او مارکیټ ته وړاندې شي. او یا هغه عضوی مواد چې نباتي سره یا Compost تری جوړیږي باید د سرو په جوړولو کې استعمال شي. دولت باید ډیرې ونې وکري او هم خلک مکلف شي په خپلو کورونو، د کور مخه کې او هم د کار په ځایونو کې نیالګې او ونې وکری.

په هوا کې کوچني ژوندی موجودات یا Bio aerosols د ډیرو ناروغیو سبب دی چې اکثره یې اتمسفیر ته د کلینکی او زراعتی زبالو څخه داخلیږي نو باید کلینکونو کې او هم بزګرانو ته ددوی د مسولیت په اړه لارښونه وشي.

**د زبالو نا سم مدیریت**

په افغانستان کې یوه لویه ستونزه د زبالو ناسم مدیریت دی چې نه خلک او نه دولت ورته متوجه دی. په ټوله نړۍ کې اکثره د زبالو د مدیریت لپاره د 3Bin Approach استعمالیږي چې په کورونو او کار زیاتونو کې ۳ مختلف لوښي د زبالو د راجمع کولو لپاره استعمالیږي چې لومړی د عضوی موادو لپاره ځکه دا د تجزیې وړ دی، دویم د هغه موادو لپاره کوم چې بیا دوباره جوړیږي او دریم د هغه موادو لپاره چې ددې دواړو څخه نه وي چې هغه بیا په نورو طریقو له منځه وړل کیږی چې دا د دولت د اړونده ادارو یا د زبالو کوم شخصی شرکت لخوا راټولیږي او د مختلفو مقصدونو لپاره استعمالیږي.

باید چې کلینکي زبالی په چاپریال کې خوری نه شي او په ازاده هوا کې ونه سوځول شي چې دا کار اکثره وخت حتی د چاپیریال ساتنې ریاستونه هم کوی مګر ددغو موادو په سوځولو سره مختلف خطرناک ګازونه اتمسفیر ته داخلیږي او مونږ له یو بل مشکل سره مخ کوی سوځول یې تر ټولو اخري لار ده. په هغه ځایونو کې چې زبالی اوبو ته داخلیږي باید جالونه وتړل شي او هم باید د کور او کاری ځایونو کثافت سیندونو او د اوبو نورو ځایونو ته ونه غورځول شي چې وبه ککړی نشي او په اوبو کې شته ژوند وساتل شي. د پلاستیک له استعمال څخه ډډه وشي او پرځای یې ټوکر استعمال شي، پلاستیک نه یوازې دا چې چاپیریال ککړوی مګر هغه کوچني ژوندي موجودات چې د خاوري په فعالیت کې رول لري له منځ وړي او د وچې او اوبو ژوندي موجودات له ناروغیو او مړینې سره مخ کوي.

**د خاوری ککړتیا**

د خاوری ککړتیا یوه جدی ستونزه ده او بیا په داسې هیوادونو کې لکه افغانستان چې اقتصاد یې په زراعت پورې تړلي دی.

د خاوري د ککړتیا یو اصلی لامل د هغو درملو استعمال د چې د فصلونو د خوندی توب لپاره د حشراتو، فنجی او یا وښو د مخنیوی لپاره استعمالیږي یا د کیمیاوی سرو استعمال چې ددې اوږد مهاله استعمال خاوره ککړوي او د زراعت څخه یې وباسي او همدارنګه کله چې باران کیږي بیا دغه مواد اوبو ته انتقالیږي او د اوبو د ککړتیا یو مهم لامل دی. باید بزګرانو پدې پوهه کړل شي چې که څه ددې کیمیاوی موادو استعمال په لنډ وخت کې ډیر حاصل ورکړی مګر اوږده مهال نتایج یې خطرناک دی ځلوبینت پنځوس کال بعد خاوره خپل فعالیت له لاسه ورکوی. ددغو مواد استعمال د نبات د یوې نوعی اصلیت له لاسه ورکوی او هابرید رامنځ ته کوی چې مثلا په اوسنیو سبزیجاتو کې که څه هم ظاهری ښکلا لري مګر هغه خوند نه لري. دغه کیمیاوی مواد چې کله غذایي شبکې ته داخل شي کنسر رامنځ ته کوی او دا Carcinogen دی.

د خاوري د ښه والي لپاره باید د فصلونو د کرلو تر منځ وقفه وشی او مختلف نباتات وکرل شي ترڅو خاوره خپل مهم مواد بیرته پوره کړي.

باید کرنیزه خاوره د کورونو، فابریکو او د ساختمانونو د جوړولو لپاره استعمال نشي.

په هوا کې شته معلق موادو ځمکي ته راښکته کیدل د خاورې د ککړتیا او د زراعت لپاره د ککړو اوبو استعمال د خاورې د ککړتیا نورو لاملونه دی.

د ډیرو ونو کرل د خاورې د ککړیتا په مخینوي کې مرسته کوی او د خاوره د سیلابونو په وړاندې ساتي.

**د اوبو ککړتیا**

د اوبو ککړتیا نه یوازې د افغانستان بلکې د ټولي نړې ستونزه ده. مګر په افغانستان کې اکثره د کور، کلینکونو، فابریکو، زراعت او نورو زباله اخرې ځای سیندونو او د اوبو ځایونه ده چې د اوبو د ککړتیا تر څنګ په اوبو کې شته ژوندي وجوداتو ژوند یې له خطر سره مخ کړې دی. باید ټول Wastes اول تصفیه شي او بیا اوبه ته پریښودل شي. نو باید د زبالو سیستمونه سیندونو ته پریښودل نشي چې اکثر خلک یې همدا اوس کوی او له وجي یې هغه خلک چې د سیندونو به غاړو کې اوسیږی په مختلفو ناروغیو اخته شوي دی.

د اوبو په استعمال کې باید د اصراف څخه ډډه وشي، د اوبو ډیر او بې ځایه استعمال د اوبو سطحه ټیټوی چې ورسره د ځمکي لاندی اوبه کمیږي چې بیا نوي کیدل یې اوږد وخت ته ضرورت لري. باید بزګران د زراعت لپاره د کیمیاوی موادو د استعمال څخه ډډه وکړي ځکه چې دغه مواد د اوبو د لاری غذایی شبکې ته داخلیږي او ناروغی پیدا کوي. هغه ونې ونه کرل شی چې چاپیریالی ارزښت یې کم مګر زیاتي اوبه مصرفوی، د اوبو چینالونو مهار کړل شي تر څو د اوبو ضایع کیدل کم شي په کورو کې باید د جامو مینځلو، لوښو وینځلو، لامبلو پر وخت د اوبو د اصراف څخه ډډه وشي او هم خرابی فواری او نلکی پر وخت جوړي شي.

**غږیزه ککړتیا**

غږیزه ککړتیا یوه له هغو جدی ستونزو څخه ده چې حتی خلک پرې پوهه هم نه دی. هغه خلک چې په زیات شور کې وسیږي د هغه چاپیریال سره یې توافق کړي دی مګر دا په دی معنی نه دی چې د هغوی په ژوند منفی تاثیر نه کوی په خاص ډول به روغتونونو کې د غږ فریکونسی په نظر کې ونیول شي. خلک باید پدی پوهه کړل شي چې د هغه اوازونه څخه ډده وشي چې په ذهن ښه نه لګي او نارامی رامنځ ته کوی.

باید فابریکي د ښارونه څخه لرې وی ترڅو د فابریکو د ماشینونو او جنراتور اوازونه څخه نږدی خلک ،متعلمین او محصلین خوندي وي. باید هغه قوانین پلي کړل شي چې د لویو فابریکو او هوایی میدانونو څخه ۱۰ یا ۱۲ کیلومتره لرې کورونه جوړ شي. خو باید په پام ولرو کله چې د ښار څخه لرې کومه فابریکه یا هوایی میدان جوړیږي د هغه ځای د ځمکو قیمت لوړیږي او سړکونه پخیږي نو بیا خلک کوشش کوي چې هغه ځای کورونه جوړ نکړی چې تیره ستونزه بیا تکراریږي که دغه قوانین په جدی ډول پلی نشي.

باید خلک په خپلو کورونو، کار ځایونو او ښارونو کې ونې وکري تر ځکه چې دا غږیزه ککړتیا کموي. هغه کارګرانو ته چې په ډیر شور کې کار کوي باید Ear plugs استعمال کړی. ماشومان باید د ډیر شور څخه وساتل شي. په هغه ایکوسیتمونه کې چې د ژوند د بنو لپاره مساعد وی فابریکي او ماشینونه ونه لګول شي. د ښار سړکونه باید پراخه کړل شي تر څو د بیځایه هارن مخنیوی وکړل شي.

**پلاستیکی ککړتیا**

د پلاستیک استعمال یو تر ټوله لویه چاپیریالي ستونزه ده چې د وچې او اوبو ژوندی موجودات ورسره مخ دی. پلاستیک د تجزیي یا به لږ وخت کې د تجزیي وړ نه دي او همیش په چاپیریال کې وي. باید د پلاسیکي بوتلو پر ځای هغه بوتلی

استعمال شي چې د بيا بيا استعمال وړ وی. د پلاستيک پر ځای د ټوکر څخه استفاده وشي. د پلاستيک د ککړتيا يواځيني حلاره په تدريجي ډول د پلاستيک د اسعمال کم والی دی.

**د ژوند بنو د اهميت په اړه د عامه پوهاوی کموالی**

د ژوند بنې د يو فعاله ايکوسيټم لپاره او د انرژی د دوران او بيا نوی کيدو لپاره ضروری دی. د ژوند د يوې بنې د له منځه تللو په نتيجه کي غذايی شبکه تخريبيږي او ورسره ډيره نورې نوعی له منځ ځي. بايد هغه نوعو ساتلو لپاره چې په يوه خاص سيمه پورې محدود وی هغه سيمه د يو خاص ايکوسيټم تر نامي لاندی په ساتل شو سيمو کې شامل شي. د ناقانونه ښکار مخنيوی وشي او قانوني ښکار هم په دې اندازه نه وي چې د يوې نوعی نسل ورسره زيانمن شي. که په يوه سيمه کې ساختمانونه جوړيږي بايد د هغې سيمې څخه د حيواناتو او نباتاتو نوعې نورو خوندي او هغه سيمو چې ددغو نوعو لپاره مساعدې وي انتقال شي.

خلک پرې دې پوهه شي چې ټول هغه توليدات چې مونږ يې د طبيعی ايکوسيټمونه څخه لاس ته راوړو د ژوند بنو په شتون پورې اړه لري. د ژوند بنو د ساتلو لپاره د دولت، د چاپيريال ساتنې د ادارې، د چاپيريال ساتنې د نهادونو او خلکو همکاري ډيره ضروري ده. بايد د ژوند بنو په اړه د ريسرچ نړيوال پنډونه او پروژې جلب شي.

**په چاپيريالي حوزو کې د ساتلو شو سيمو په اړه د معلوماتو کموالی**

دا چې افغانستان د طبيعت له نظره ډير غنی دی مګر د مسلکی کسانو او ناامنی له امله مونږ په افغانستان کې د شته طبيعی ايکوسيټمونه او په هغه کې د ژوند د بنو په اړه کافی يا ډير لږ معلومات لرو.

د مثلا په ډول زمونږ لومړی ملی پارک چې بند امير دی د چاپيريال ساتنې اداره ددې په اړه داسې هيڅ معلومات نلری يا يې ريسرچ نه دې کړی چې کومه نوعه نباتات په دغه پارک کې شته، کوم يې په وچه او کوم د اوبو تر لاندی دی. کوم ډول حيواناتو نوعې لري کومه نوعی ددې سيمی اصلی ده کومې نوعې د نورو سيموڅخه په کومو لاملو دې پارک ته انتقال شوی دی. کومه نوعه د لمنځه تللو له خطر سره مخ ده او بايد څه وکړل شی نو پکار ده چې د ټولو ساتلو شو سيمو په اړه کافی ريسجرچ وکړل شي.

بايد مختلف ايکوسيټمونه چې چاپيريالي ارزښت لري مثلا ډنډونه wetlands، څړ ځايونه، د اوبو ايکوسيټمونه، ملی پارکونه، ابشارونه، دښتې، سرې دښتې او د خاصو حيواناتو او نباتاتو د اوسيدو ځايونه په چاپيريالي حوزو کې شامل او په اړونده نړيوالو کنوينسنونو، تړونونو او پروګرامونو کې شامل شي او ددې د خونديتوب او ريسرچ په اړه نړيوالي مرستې راجلب شي.